مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

احسان الله ارینزی ۲۰۱۷/۱۲/۰۴

مدني معلومات

هغه وخت چې د پخواني ولسمشر حامدکرزي په مشرۍ نوې اداره، جوړه شوه، ډېرو خلکو فکر کاوه چې نور نو د افغانستان د بدمرغیو، ورانیو، کړاوونو، رنځونو او ستونزو توره دوره پای ته ورسېده او ژر به د نیکمرغۍ، ورورولۍ، تفاهم، هوسایني او پرمختګ لمر راوخېږي او ټول وطن به رڼا- رڼا شي!
ما هم په کلي کې د خپلې پلرنۍ کلا د اساسي ترمیم پرېکړه وکړه او ومې غوښتل چې د کورنۍ او مېلمنو دپاره له ښاري ګڼې ګوڼې څخه لیرې، د ګوربت سیند په څنګ او د شنو ونو په منځ کې زړه پلارنۍ کلا بیا له سره جوړه کړم او په دې توګه د هیلو او امیدونو له هغه ستر کاروان سره یو ځای شم چې د حامدکرزي د واکمنۍ په لومړنیو کلونو کې، په ټول هېواد کې روان و او خلک له ډېرو سترو غمونو او کړاوونو وروسته بیا هېلمن ښکارېدل!
خیر د کلا د ترمیم د کار په بهیر کې، یوه ورځ د کلي دوه مولویان راغلل او وې ویل چې که زه د نژدې جومات څنګ ته، د نجونو د درس له پاره درې څلور کوټې جوړې کړم؛ نو دوی، د سیمې نور اهل تدریس او کلیوال به ډېر خوشاله شي!
که رښتیا ووایم زه دومره خوشاله شوم چې په جامو کې نه ځایېدم! مولویان وایي چې د نجونو د درس له پاره کوټې ورته جوړې کړم! دا زما له پاره داسې و لکه یو لوی زیری!
ما ته، چې د اعلحضرت غازي امیر امان الله خان له وخته د نجونو د درس او تعلیم حساسیت ښه معلوم و، دا خبره ډېره په زړه پورې وه چې مولویان د نجونو د درس له پاره کوټې غواړي!
خیر کار پیل شو او په دوو میاشتو کې مو د کلي د کمکیو نجونو له پاره درې ښکلې کوټې جوړې کړې. فرش، الماری ګاني، دیني کتابونه او هر څه برابر شول او د کلي په مشرانو غږ وشو چې خپلې کمکۍ لوراني او لمسیانې ښوونځي/ مکتب یا د مولویانو په خوله مدرسې ته واستوي.
په یوه اونۍ کې پنځوس شپېته نجونې درس ته حاضرې شوې. د درسي نصاب مالیکت له مولویانو سره و. حفظ، قدري، شروط الصلوه، میراث، کنز او داسې نور.
ما مولویانو ته وویل چې دا خو ډېر مبارک مضمونونه دي؛ خو دا به زموږ د وروسته پاته کلیوالي کمکیو نجونو په ژوند کې څه تغییر راولي؟ دوی ویل چې د مسلمان اولادونه باید مسلمانان ورزول شي. ما ځواب ورکړ سمه خبره ده. موږ ټول الحمد الله مسلمانان یو؛ خو بدلون په لږ سواد، مدني پوهه او ساینسي مضامینو راځي، ما ټینګار کاوه چې د افغانستان د پوهنې وزارت یو مضمون ته چې مدني معلومات نومي اجازه ورکړئ. دوی پوښتنه وکړه چې دا څه شی دی؟ ما ورته وویل چې دا دې جنګو ته وایي چې وېښتان پاک وساتئ، غاښ پرېونځئ، نوکونه په وخت واخلئ، لمر ته کینئ، د کور کړکۍ پرانیزئ چې پاکه هوا او لمر وچلېږي، لاس په صابون پرېونځئ، جامې او بړستنې لمر ته وغوړئ او داسې نور؛ خو مولویانو حتی همدې 40 مخیز کتاب ته د شک په سترګه کتل.
دوی ډېره تلوسه درلوده چې دا کمکیانې د قرآن شریف حافظانې جوړې کړي. ما به ورته ویل چې دا نجونې به له حفظ وروسته څه شی شي؟ تاسو ښځې او نجونې جومات او جماعت ته نه پرېږدئ، ښځې په ادیرو او هېڅ ځای کې وعظ حق نه لري او تر ټولو مهمه دا کله چې تاسو له دې کمکیانو بېسواده جنګو څخه حافظانې او قاریانې جوړې کړئ، دوی به خپل کمال چېرته ننداري ته ږدي؟
ما دوی ته ویل چې په دې جنګو لس آیتونه حفظ کړئ؛ خو په مانا یې وپوهوئ چې دوی پوه شي چې قران شریف څه وایي! که دا جنګې یوازې حافظانې او قاریانې وي؛ نو وطن، ولس او دې کلي ته یې څه ګټه ورسي؟
اوس زما یادېږي چې هغه وخت د وردګو او غزني او هلمند او بدخشان او لنډه دا چې ټول افغانستان په کلیو کې داسې مدرسې جوړېدې چې د مدني معلوماتو څلوېښت مخیزه کتاب یې هم نه شوای برداشت کولای او دا دی اوس یې نتایج موږ په ټول هېواد کې په سترګو وینو چې وینې بهېږي او د هر ډول منځلاریتوب او مدني ژوند چیغه په ستوني کې ټپ کېږي او له دین څخه ډېره سیاسي ګټه پورته کېږي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

د نجونو د دې مدرسې جوړېدو په دوهم کال کې څو نجونې حافظانې شوې چې موږ سپینې جامې پرې ووېشلې؛ خو له کلي څخه په بېرته تګ کې مولویانو هغه د مدني معلوماتو کتابونه بېرته ماته راکړل او وې ویل چې دا په درد نخوري، بل ځل چې راتلې (منظره مرګ) کتابونه درسره راوړه چې دا ولس ډېره اړتیا ورته لري!!
اوس لسم کال دی چې زه خپل کلي ته نه شم تلای؛ خو دومره پوهېږم چې د هېواد- خپلواکی، نارې امان الله خان، مدني نهضت، عصري ژوند، پاکو جامو، موسقي، فلم- تلویزیون او لنډه دا چې پرمختګ او نوي ژوند د هر څرک په ضد تبلیغ روان دی او حتی خلک بیا د تیارې د راوستلو له پاره خولې بهوي!!

پای

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ